محمد هارون خپل شعشعی

۰۳ فبروری ۲۰۱۳

## په افغانستان کي د يرغلګرو لښکرو
## د بشري ضد او جنګي جنايتو حقوقي شننه
## ۹

**د اشخاصو تَرَيتم کېدل:**

د جزا د بین المللي محکمې د روم اساسنامې د اوومې مادې (ط) فقره د اشخاصو د جبري تريتم کېدو و مسألې ته ښېله سوې ده. دا واقعیت پر افغانانو سربېره د سیمې او نړۍ و خلګو ته هم روښانه دئ، چي له تروریزم او افراطیت سره د مبارزې تر درواغجن پوښ لاندې د امریکا ظالمانه یرغل او استعماري جګړې د بېلابېلو مزدورو هیوادو و امنیتي او استخباراتي سازمانو ته واک ور کړئ دئ، چي د سړي تښتوونکو په څېر د معصومو انسانانو په برمته کولو لاس پورې کي؛ او دا وحشتناک بهیر تر اوسه جاري دئ. له دغه راز تريتم سوو کسانو څخه ځیني پر همغه مخ ورک سوي؛ خو ځیني نور یې دلته او هلته د امنیتي او استخباراتي سازمانو تر وحشتناکو شکنجو او کړاوو وروسته په بګرام، ګوانتنامو او داسي نورو مخوفو نورو زندانو کي موندل سوي دي. د بګرام په محبس کي د نړۍ د مختلفو هیوادو د برمته سوو اتباعو بندي کول د امریکایي او ایتلافي دولتو د انسان تښتوني څرګند ثبوت دئ.

**د خوندي کسانو یا خوندي شتمنیو پر خلاف جرمونه او جنایتونه:**

د جزا د بین المللي محکمې د روم اساسنامې د اتمې مادې د دوهم پاراګراف په ( الف ) فقره کي د جینیوّا د ۱۹۴۹ کال د اګست د دوولسمې نېټې له کنوانسیونو څخه سختې سرغړوني یاني د هغو اشخاصو یا شتمنیو پر خلاف جرمي عملونه بیان سوي دي، چي د جینیوّا د اړوند کنوانسیون د احکامو له مخې خوندي کسان او خوندي ځایونه ګڼل کیږي؛ حال دا چي زموږ هیوادوال له څه باندي یوولسو کالو راهیسې د سر په سترګو ګوري، چي د امریکایي او ایتلافي قواوو په ظالمانه عملیاتو کي ماشومان، ښځې، زاړه، لارې، کوڅې، ماجتونه، مدرسې، کلینیکونه په لنډه توګه هیڅوک، هیڅ شی او هیڅ ځای خوندي نه دئ.

**پر خپلسر له منصفانه او عادي محاکمې څخه د جنګي بندي یا بل خوندي کس بې برخي کول:**

د روم اساسنامې د اتمې مادې د ( الف ) پراګراف شپږم جزء د جینیوّا د (۱۹۴۹ع ) کال د اګست د دوولسمې نېټې د کنوانسیونو د سختو سرغړونو په ډله کي له منصفانه او عادي محاکمې څخه د جنګي بندي یا بل خوندي کس د بې

برخي کولو و ارزښتناکي حقوقي مسألي ته اشاره کيي. البته، بې قانوني تور او قانوني محاکمې د خلگو تعقيبول، نيول او توقيفول، د بين المللي حقوقو پر معتبرو اسنادو سربېره زموږ له نافذو ملي قوانينو سره هم کلک ټکر او مغايرت لري؛ مثلاً د بشر د حقوقو د نړيوالي اعلاميې په نمه ( ۹) ماده کي د خپلسر نيولو، توقيفولو يا شړلو د مخنيوي په باب، داسي صريح حُکم تسجيل سوئ دئ: « هيڅوک بايد له خپلسر نيولو، توقيفولو او شړلو سره مخامخ نسي. »[*] د مدني او سياسي حقوقو په اړه د ملگرو ملتو د بين المللي کنوانسيون هم د خپلي نمي ( ۹) مادې په اوله فقره کي بې قانوني احکامو د خلگو د نيولو او توقيفولو ښکاره مخالفت او مخنيوى کړئ دئ.[**] همدا زرين اصل د کرزي د مزدور رژيم د تپل سوي اساسي قانون په اووه ويشتمه ( ۲۷) ماده کي د جرمو او جزاوو د مشروعيت په ترڅ کي بيان سوئ دئ، چي له مخي يې هيڅ عمل د هغه قانون له احکامو پرته، جرم نه گڼل کيږي، چي د هغه تر ارتکاب مخکي نافذ يي ( وي ) .د همدې مادې د دوهم بند له مخي بې قانون احکامو، د هيچا په تعقيبولو، نيولو او توقيفولو لاس نه پوري کيږي. د[***] افغانستان د ۱۳۵۵هـ ش کال د جزا د تصويب سوي او تر اوسه نافذ قانون دوهمه، دريمه او څلرمه ماده هم په روښانه ټکو د جرمو او جزاوو د مشروعيت پر همدې اصل ټينگار کيي.[****] دې ټکو ته په پام سره، ايا بې قانوني تور او محاکمې د بگرام په امريکايي محبس کي د کوچنيانو په گډون د زرو افغانانو بندي کول د روم اساسنامې د اتمې مادې د ( الف ) پراگراف د شپږم جزء پر صريح حُکم سربېره د بشري حقوقو د ټولو معتبرو بين المللي اسنادو او افغاني قوانينو څرگنده سرغړونه نه ده؟!

برأت الذمه د حقوقو جهانشموله قاعده ده، چي د بشر د حقوقو د نړيوالي اعلاميې په يوولسمه( ۱۱ ) ماده، د کابل د مزدور حکومت د اوسني اساسي قانون په پينځه ويشتمه( ۲۵ ) ماده او بالاخره د افغانستان د جزا د قانون په څلرمه (۴) ماده کي د اصلي حالت په توگه تسجيل سوې ده. په عامه او ساده ژبه د دې حقوقي قاعدې مانا دا ده، چي هر متهم يا تورن شخص تر هغه مهاله بې گونا پېژندل کيږي، چي د يوې واکمني محکمې په قطعي حُکم محکوم و نه پېژندل سي؛ خو موږ ټول افغانان شاهدان يو، چي د اشغالگرو قواوو او مزدور رژيم په بنديخانو او توقيفخانو کي د دې جهانشموله حقوقي قاعدي پر عکس( سرچپه ) عمل کيږي؟! ياني « برأت الذمه » په واقعيت کي د« تقصير الذمه » په بڼه تطبيقيږي. څنگه؟ و دغو دلايلو ته توجه وکئ:

که « برأت الذمه » د اصلي حالت په توگه و منل سي، بيا خو استخباراتي، امنيتي او عدلي اورگانونه قانوناً مُکلف او موظف دي، چي د پياوړو شواهدو، مداراکو او دلايلو په وړاندي کولو سره پر تورن يا متهم لگېدلئ تور/ تورونه د يوې باصلاحيته قانوني محکمې په حضور کي اثبات کي، کې خپل تورونه اثبات نکړاى سول، بيا نو د رسېدلي تاوان په جبرانولو يا لږ تر لږه بخښني او عُذر غوښتلو سره مکلف دي ژر تر ژره د تورن د اِيله کولو( ازادولو/ خوشي کولو) حکم وکي؛ مگر د يرغلگرو لښکرو په « تقصير الذمه » تعامل کي گورو، چي استخباراتي، امنيتي او عدلي اداري د تورن شخص په وړاندي هيڅ راز قانوني مُکلفيت او مسووليت نه لري. تاسي له امريکايي پوځي او سياسي مشرانو څخه پوښتنه وکئ، چي ولي مو بې قانوني تور( اتهام ) او قانوني شواهدو زرونه مظلوم او بېوزلي افغانان د بگرام او گوانتنامو په تورو محبسو کي تخته کړي دي؟! هغوى بل هيڅ جواب نه لري، صرف دونه وايي: په بگرام او گوانتنامو کي بندي کسان زموږ او متحدينو و امنيت ته خطر پيښيي؛ خو د دې ادعا د اثبات دپاره هيڅ ډول شواهد، اسناد او دلايل نه وړاندي کيي. کې وړاندي کولاى سواى، بيا نو ولي له نړيوالو بشري حقوقو او منلو حقوقي تعاملاتو سره سم و دغه راز تورنو کسانو ته په يوه ناپيلي، خپلواکه او عالادنه محکمه کي د ځان د دفاع حق نه ورکول کيږي؟! روښانه خبره ده، چي امريکايي څارنوالان په يوه ناپيلي، خپلواکه او عالادنه محکمه کي د خپلو ادعاوو د اثبات دپاره هيڅ ډول شواهد او دلايل نه لري؛ ځکه غل او غدوى څنگه کولاى سي د کور له خاونده د معصوميت ثبوت و غواړي؟! په داسي حال کي چي امريکايي او ايتلافي اشغالگرانو زموږ پر وياړلي کور خونړى تيرى کړئ

دئ؛ او زموږ ملي واکمني، سیاسي استقلال او ملي ارزښتونه یې تر پښو لاندي کړي دي، ایا سره له دی نه بخښوونکو جنایتو بیا هم د دې حق لري چي له کړېدلو او مظلومو افغانانو څخه د خپلي بې ګوناهی ثبوت وغواړي؟! د همدې استدلال له مخي نو عملاً ګورو چي امریکایي او ایتلافي لښکرو د « برأت الذمه » جهانشموله حقوقي قاعده په« تقصیر الذمه » اړولې ده؛ ځکه د منلو حقوقي قواعدو پر خلاف په بګرام او ګوانتنامو کي هر محبوس یا توقیف سوئ شخص تر هغه وخته محکوم او مجرم ګڼل کیږي، چي خلاف یې ثابتیږي یاني د مدارکو، شواهدو او دلایلو په وړاندي کولو سره د یرغلګرو لښکرو یا د هغود مزدورو ایجنټانو لګېدلئ تور رد او خپله بې ګوناهي ثابته کي. په داسي ظالمانه شرایطو او حالاتو کي د بې ګوناهی زباتولو دروند پېټی و هر هوښیار او دراک لوستونکي ته د پوهېدو وړ دئ. که امریکایي اشغالګران و هر خپلواکی غوښتونکي افغان ته د خطر او ګواښ په سترګه ګوري، بیا خو د بګرام او ګوانتنامو په درو یا څلورو زرو بندیانو هیڅ چاره نه کیږي، پکار ده چي له څو پلورل سوو مزدورانو او جاسوسانو چپه، ټول خپلواک او باغروره افغانان، په تېره بیا اتل او پر شا نه تلوونکي پښتانه و زندانو ته بوزي؛ او د خپل ناروا اشغال تر اخیره یې په څلورو دېوالو کي و ساتي؛ ځکه د دې ویاړلي او ځنځیرماتونکي مېني ګرده بچیان( نارینه، ښځي او کوچنیان ) هیڅکله و بلواکی او زورواکی ته سرونه، نه ټیټیي.

## د وسله والو منازعاتو له قوانینو او تعاملاتو څخه جدي سرغړوني:

د روم اساسنامې د اتمي مادې د دوهم پاراګراف( ب ) فقرې د شپږویشتو بېلو حالاتو په پېشبیني کولو سره د بین المللي حقوقو په منل سوي چوکاټ کي د جنګي شخړو له منلو قوانینو او تعاملاتو څخه نوري جدي سرغړوني بیان کړي دي، چي زیاتره یې د یرغلګرو لښکرو په څه د پاسه یوولس کلن اشغال کي بشپړ تحقق لري؛ مثلاً د اتمي مادې د دوهم پاراګراف ( ب ) فقره تر هر څه مخکي پر هغو ملکي خلګو یا هغو ملکي کسانو د عمدي بریدو یادونه کیي، چي په جنګي شخړو او تصادماتو کي مستقیمه برخه نه لري. د دې فقرې په دوهم بند یا دوهم جُزء کي پر هغو ملکي تاسیساتو او وسایلو د عمدي برید جنګي جرم بیان سوئ دئ، چي عسکري اهداف نه ګڼل کیږي. په تېرو یوولسو کالو کي زموږ د زرونو ملکي خلګو بې رحمانه مرګ ژوبله، د لکونو ملکي وګړو جبري بې ځایه کېدل؛ د کورو، دوکانو، باغو، ماجتو او حتا بشپړو کلو هوارول یا اوجاړول ټول د امریکایي او ایتلافي ځواکو هغه بشري ضد او جنګي جنایتونه دي، چي په لیکلو یې کتابونه ډکیږي. د هیواد په ګوټ ګوټ کي دا بشري ضد او جنګي جنایتونه د یرغلګرو پوځو له راتګ سره پیل سوي؛ او تر هغه مهاله به جاري يي، چي په دې خپلواکه خاوره کي یو پردی عسکر مېشت یې.

## بې پروا او لاقیدانه بریدونه:

د اتمي مادې د دوهم پاراګراف د( ب ) فقرې په څلرم جُزء کي د هغو عمدي بریدو یادونه سوې ده، چي د چا د وژل کېدو یا و ملکي خلګو ته د ضرر رسېدو یا و ملکي هدفو او وسایلو ته د تاوان اوښتو یا و طبیعي چاپېر ته د داسي پراخ، اوږدمهاله اوسخت زیان موجبات برابریږي، چي د هغو د مشخصي او مستقیمي اټکل سوي عسکري ګټي په پرتله له ورایه زیات دي. د همدې پاراګراف د ( ب ) فقرې په پینځم جزء کي په لا ډېر ټینګار او صراحت سره د بېلابېلو وسلو په کومک پر بې دفاع ښارو، کلو، کورو او غیر پوځي ودانییو د برید او بمباری جنایت بیان سوئ دئ. راسئ د دې پارګراف د دوو بېلو برخو روښانه متن د هیواد په ګوټ ګوټ کي د امریکایي او ایتلافي یرغلګرو له ړندو او بې پروا عملیاتو سره مقایسه کو. زموږ هیوادوال شاهدان دي، چي امریکایي قواوو یو ځل نه، دوه ځله نه، بلکي په وارو وارو د شکمنو طالبانو یا نورو وسله والو کسانو په تور د ملکي افغانانو د استوګني پر سیمو داسي

وحشيانه بمبارۍ کړي دي، چې حتا لېونو یې هم د غیرمطلوبو تلفاتو او خساراتو(**collateral damages**) **د پېښېدو** اټکل کولای سوای؛ مثلاً په ۲۰۰۲ع کال کي د روزګان ولایت د دهراود اولسوالی د یوه واده پر مراسمو د امریکایي الوتکو د ړندو بمبارییو له امله دېرش ( ۳۰)کسه شهیدان او نیوي ( ۹۰) کسه ټپیان سول.[۵۶] د یو بل رپوټ له مخي په دې بې پروا هوایي برید کي له څلوېښتو (۴۰) څخه تر دوه نیم سوه ( ۲۵۰) ملکي خلګو ته مرګ ژوبله وا وښتله.[۵۷] د مستندو رپوټو له مخي، امریکایي لښکرو په داسي حال کي هر څه په وینو او خاورو ولړل، چې د واده په مراسمو کي د طالبانو یا القاعدې هیڅ غړی هم نه ؤ. وروسته مالومه سوه، چې له افغاني دود او دستور څخه بې خبرو امریکایي پوځیانو د واده په مراسمو کي د ګډون کوونکو د خوشالی ټکان( ډزي ) د طالبانو او القاعدې د موجودیت « دلیل» ګڼلئ ؤ. د ۲۰۰۸ کال د جولای پر شپږمه نېټه د امریکایي الوتکو له خوا د ننګرهار ولایت د شینوارو د دهِ بالا اولسوالی د واده د مراسمو په بمبارییو کي د نه دېرشو( ۳۹) کوچنیانو او ښځو په ګډون زموږ اووه څلوېښت ( ۴۷) وطندارن شهیدان؛ او نور نه ( ۹) کسه ټپیان سول.[۵۸] که چیري په دغه راز مراسمو کي طالبان یا نور وسله وال مخالفین لیدل سوي هم وای، بیا هم د عقل، منطق او بشري عاطفي خاوندانو و ځانو ته حق نه ورکاوه او نه یې ورکیي، چې د څو مخالفینو په ګونا د کوچنیانو، ښځو، زړو، ګرم او ناګرم پر ستره غونډه عمومي بمبارۍ یا ډزي وکي؛ خو په شیطاني وسلو غره امریکایي او ایتلافي جنایتکارانو د دې روښانه واقعیتو پر پوهېدو سربېره د خلګو د ښادۍ پر مراسمو بمونه و غورځول؛ او د سترګو په رپ کي د ګلالیو ماشومانو او ښځو په ګډون د درځنو بې ګونا افغانانو سرونه او وجودونه په وینو ولړل. د داسي ړندو او لاقیدانه وژنو، ورانکارییو او تروریستي حملو په اړه، چې فهرست خورا اوږد دئ، هیڅکله باید دا دوه ټکي له یاده ونه باسو:

- اول ټکی دا دئ، چې د یوې شپېږي په خاطر د درست پوستین اور ته غورځول له عقل، منطق، انصاف او بشري حقوقو سره څرګند تضاد او مغایرت لري. لکه څنګه چې د جینیوّا د ۱۹۴۹ کال د اګسټ د دوولسمي نېټي د کنوانسیونو حکمونه او د جزا د بین المللي محکمې د روم اساسنامې د اتمي مادې د دوهم پاراګراف د ( ب ) فقرې څلرم جُزء په روښانه نص یادونه کیي، په یوه کور، کلي او سیمه کي د یوه یا څو شکمنو وسله والو مخالفینو پټېدل یا پناه اخیستل و هیڅا ته دا واک نه ورکیي، چې پر ټول کور، کلي یا سیمه د بمو او توپو باران واوریي؛ او چنګېزیانو غوندي وچ و لانده ټول په اور کي وسوځيي.

- دوهم ټکی دا دئ، چې په افغانستان کي د وسله والو جنګي ډلو له خوا زموږ پر مظلومو او کړېدلو ملکي خلګو انتحاري او غیرانتحاري بریدونه( د ملکي خلګو د تګ راتګ په لارو کي بمونه ایښوول، د ملکي خلګو د ګڼي ګوڼي په سیمو کي پر پردو یا دولتي عسکرو حملي، په تروریستي بڼه د ملکي خلګو وژل یا ګواښل؛ د زده کړي، سوله ییز کار او نورو سیاسي، اجتماعي او فرهنګي فعالیتو په سَوَب له ملکي خلګو، په تېره بیا ښځو سره زورزیاتی او داسي نور جنایتونه ) یا د سره پوځ د تېرې پر مهال د روسي یرغلګرو او د هغو د مزدور رژیم بشري ضد او جنګي جنایتونه پر خپل ټول بدوالي او محکومیت سربېره، هیڅکله د یرغلګرو لښکرو و بشري ضد او جنګي جنایتو ته برأت نه ورکیي. د انګرېزانو خپل متل دئ، چې وایي:(**Two wrongs don’t make a right**) یاني غلطی ته باید په غلطی سره جواب و نه ویل سي. لکه څنګه چې د جهاد، وطندوستی یا خپلواکی په سپېڅلو نومو د بې ګونا افغانانو سرونه پرې کول یا د وطن د بچیانو پر مخ د پوهي او رونا دروازې تړل، د مخالفو وسله والو ډلو ایماني، ملي او اولسي مسوولیت له منځه نه وړي، امریکایي او ایتلافي پوځونه هم هیڅ حق نه لري، چې زموږ د رنځېدلو او بې دفاع افغانانو د مرګ ژوبلي، مالي تاوانو، بندي کولو، شکنجو، تراهولو او سپکاوي په بیه، له خپلو موهومو مخالفینو سره زموږ په کور، کلي او ښار کي بې مسوولیته ډغري و وهي. امریکایي او ایتلافي لښکرو د جنګ د بین المللي قوانینو او تعاملاتو په ښکاره ماتولو او مسخره کولو سره زموږ په اشغال سوي هیواد او شاوخوا سیمه کي د خپلي رواني

جګړې ظالمانه، تروریستي او استعماري ماهیت ډېر ښه رسوا کړئ دئ. هغوی و بشري حقوقو، اولسي عقایدو، شخصي او عامه شتمنییو ته په دغه راز بې باکی سره له ورایه ښیي، چې د خپلو استعماري ګټو د تحقق دپاره نه یوازې د جنګ او وسله واله تصادماتو و بین المللي قوانینو او تعاملاتو، بلکې د بین المللي حقوقو د هیڅ منلي اصل او قاعدې و منلو ته تیار نه دي. د دوی په نېز ملي او بین المللي قوانین یوازې هغه مهال ارزښت او اعتبار لرلای سي، چې له استعماري ګټو او قوانینو سره ټکر و نه لري. همدا وجه ده، چې استعماري دولتونه د بین المللي حقوقو د ټولو منلو اصولو او موازینو په نقضولو سره په دې یا هغه پلمه د نړی پر خپلواکو هیوادو پوځې یرغلونه کیې؛ د مخالفو سیاسي رژیمو د نسکورولو په مخسد د مزدورو ډلو ټپلو پر لاس د خونړییو جنګو او لاس وهنو اوورنه بلیې؛ اقتصادې کلابندی او بندیزونه لګیې؛ او خپلو کرغېړنو استعماري ګټو ته د رسېدو په لار کې له هیڅ راز جنایت او بربریت څخه مخ نه اړیي. لیبیا او سوریه یې ژوندي مثالونه دي.

### د تسلیم سوو جنګیالییو یا جنګي اسیرانو وژل او ټپي کول:

د  جزا د بین المللي محکمې د روم اساسنامې د اتمې مادې د دوهم پاراګراف د ( ب ) فقرې په شپږم  جُزء کې د امریکایي او ایتلافي قواوو د یو بل شرموونکي جنګي جنایت یادونه سوې ده. دا جنایت د هغه  مخالف جنګیالي وژل یا ټپي کول دي، چې ټولې وسلې یې پر مځکه ایښي یې؛ او د ځان د دفاع دپاره بل هیڅ شی په واک کې ونه لري. د دې لیکنې په دوهمه برخه کې مو د کندوز په «کلای جنګي» او د مزار شریف په « دشت لیلي » کې د هغو طالبانو او طالب خواخوږو د وحشیانه قتل عام و دردونکي داستان ته  لنډه اشاره وکړه، چې تر اوږدو او پرله پسې امریکایي بمبارییو وروسته د کندوز په جبهه کې د امریکا د خاصو قواوو تر څارنې لاندې د مزدور شمالي اتحاد و خونخورو قومندانانو ته تسلیم سوي وه؛ او د دفاع هیڅ راز وسیله یې په واک کې نه لرله. دلته ځای لري، چې یو پلا بیا د بې دفاع جنګي بندیانو په وړاندې د« بشردوستی »، « ډیموکراسی » او« تمدن » د « ټیکه دارانو» او د هغو د جنایتکارو مزدورانو( شمالي اتحاد)، په تېره بیا عبدالرشید دوستم او معلم عطا( عطامحمد نؤر) د وحشیانه جنایتو یادونه وکو. البته، له دې عیني واقعیته هم هیڅوک نټه نسي کولای، چې که د شمالي اتحاد له سفاکو قومندانانو سره د امریکایي ځانګړو ځواکو( سپېشل فورسیز ) بالفعل مرسته او همکاري نه وای د« دشت لیلي » انساني ناتار به هم هیڅکله نه پیښېدلای. [٥٩] په همدې دلیل په سر تړلو کانتینرو کې، خښتو او سیمپټو غوندې، د سوونو بې دفاع جنګي اسیرانو اچول د« بشري حقوقو »، « انساني تمدن »، « اولسواکۍ » او « قانون واکی » د درواغجنو ټېکه دارانو او د هغو د خونخورو مزدورانو د بشري ضد او جنګي جنایتو یو بل تور او کرغېړن مثال دئ.

موږ ټول شاهدان یو، چې« دشت لیلي » غوندې خونړییو جنایتو په افغانستان، عراق، لیبیا، سوریه او داسې نورو هیوادو کې د اولسو د ملي پیوستون، بشري حقوقو، اولسواکی، قانونواکی او سوکالی پرځای د قوم، قبیلې، مذهب، ژبې، سیمې، سیاسي او ایډیالوژیکو توپیرو پر اساس د کرکې او دوښمنی داسې اوورنه بل کړل، چې کلونه کلونه به د اوسېدونکو اقوامو او قبیلو سوله ییز ګډ ژوند او د هیوادو مځکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنې او سیاسي خپلواکې له جدي خطرو سره مخامخ کیې. څه موده مخکې، د نیویارک ټایمز د ورځپاڼي لیکوال او مبصر، راډ نورلنډ **(Rod Nordland)** په خپله وروستی مقاله ( څېړونکي وایي: لوړ رتبه افغانان د نیوییمو کلونو په وژنو کې لاس لري ) کې د کابل د مزدور حکومت د برحاله سرغنه وو په ډله کې د عبدالرشید دوستم، قسیم فهیم، محمد کریم خلیلي اوعطامحمد نور نومونه یاد کړل.[٦٠]

په دې واقعیت خو ټوله نړۍ خبره ده، چې په افغانستان کې د امریکایانو او ایتلافي قواوو د اوسني لاس پر نامه حکومت زیاترو واکمنانو لکه رباني، فهیم، دوستم، خلیلي، محقق، نور، سیاف، عبدالله، قانوني او داسي نورو د نیوییمو کلونو په جنګي او بشري ضد جنایتو کې اساسي او ټاکوونکي برخه لرله؛ مګر د خواشینۍ وړ خبره دا ده، چې ښاغلي نورلنډ پر افغانستان د امریکایي او ایتلافي ځواکو تر یرغل وروسته د دې جنایتکارانو د بشري ضد او جنګي جنایتو په اړه یادونه نه ده کړې. په بله وینا، لیکوال په روښانه ټکو دا نه وایي، چې د نیوییمو کلونو د تنظیمي جګړو وحشتناک جنایتونه د دې سرې وژونکو، ورانکارو، غلو او وطن پلورونکو د تورو او کرغېړنو کارنامو یوه کوچنۍ برخه ده؛ او د دې جنایتکارانو د جنایتو او خیانتو بل وحشتناک پړاو د۲۰۰۱ع کال په اکتوبر یاني د امریکایي یرغل په درشل کې پیل کیږي. البته، په دې پړاو کې مزدورو جنګي ډلو ټپلو له خپلو پردو بادارانو سره اوږه په اوږه و نورو بشري ضد او جنګي جنایتو ته ملاوي وتړلې، چې دا ده لړۍ یې تر اوسه روانه ده.« ملګري ملتونه »،« بشر دوستانه سازمانونه » او« منځلارې میډیا»که هر څونه پر واقعیتو پردې وغوړیي یا یې په یوه او بل ډول پیکه و ښیي، بیا هم د « دشت لیلي » په خاموش انساني ناتار کې د امریکایي یرغلګرو له فعالي او ټاکوونکي برخي اخیستني څخه سترګي نسي پټولای. په افغانستان کې د امریکا او نورو مؤتلفینو د بشري ضد او جنګي جنایتو د اثبات دپاره حتا یوازي دا خبره بس ده، چې دا دولتونه له تېرو څو دېرشو کلونو، په تېره بیا تېرو یوولسو کلونو راهیسي د داسي جنایتکارانو، ورانکارو، لوټمارو، زورواکو او مافیایي ډلو ټپلو تر شا ولاړ دي، چې په وینو تویولو، اوجاړولو، لوټولو، وطن پلورلو، فساد خپرولو او رنګارنګ بېعدالتییو کې ساری نه لري. له تېرو یوولسو کالو راهیسي د امریکا او او نورو غربي دولتو میلیارډونه ډالر د ساختماني قراردادو، امنیتي شرکتو، سیاسي تبلیغاتو او نورو پټو مرستو په بڼه د دغو کرغېړنو جنګي او مزدورو ډلو ټپلو د مشرانو په جېبو کې لوېدلي او لا تر اوسه لوېږي؛ او دا هر څه په داسي حال کې کیږي، چې زموږ بېوزله خوندي او ورونه په غرو او دښتو کې د پېلوزي، لرګو او خوشییو/ غوشییو ټولولو په ګونا د امریکایي او ایتلافي لښکرو د باپیلوټه یا بې پیلوټه الوتکو له خوا په وینو کې لمبول کیږي. وینو او دراکو لوستونکو ته دا خبره هم روښانه ده، چې په افغانستان او درسته سیمه کې د جنایت او وحشت د توري فضا واکمني او په لوېدیځو هیوادو کې د عامو خلګو د سیاسي او اقتصادي ژوند زیاتېدونکي ویجاړتیا ټول په واقعیت کې د غربي دولتو د واکمنو حلقو د همدغو ناروا او ظالمانه سیاستو نتیجې دي. که د امریکا او لوېدیځو دولتو په چارښاخو پیسې، پوځي او سیاسي ننګه نه وای، په افغانستان او سیمه کې به د جنایت او افراطیت پلویان هیڅکله په داسي مستۍ او غوړَه کې نه وای. انـــګـــرېزان په خپـــله وایـــي: "A man is known by the company he keeps". یاني یو سړی د خپلو ملګرو او انډیوالانو له رویه پېژندل کیږي. بل ځای وایي: "Birds of feathers flock together" موږ په پښتو کې د دې متل پر ځای وایو:« مرغان هغه سره کښېني، چې بني یې سره ورته یي ». په پارسي کې د دې مفهوم دپاره وایي:« کبوتر باکبوتر *باز با باز* --- کند همجنس *با* همجنس پرواز». د دې متلود یادوني مخسد دا دئ، که امریکا او غربي متحدینو یې ریشتیا هم په افغانستان کې له امنیت او ثبات، « بشري حقوقو»، په تېره بیا د ښځو له حقوقو، اولسواکۍ، قانونیت، عدالت او داسي نورو بشري ښېګڼو سره مینه لرلای، نو هیڅکله به د مختورو جلادانو، ورانکارو، غلو، جاسوسانو او راز راز مافیایي ډلو ټپلو ترشا نه درېدلای. د امریکا او نورو لوېدیځو دولتو واکمني کړۍ په دې روښانه واقعیت ښه پوهیږي، چې د قاتلانو، ورانکارو، جاسوسانو، غلو او مافیایي ډلو ټپلو ملاتړ، له ورایه د بشردوستۍ، اولسواکۍ، قانونیت او عدالت د وژلو او زینډۍ کولو په مانا دئ؛ خو د خپلو استعماري او استثماري ګټو له ناچارییه هیڅکله د هغو له ملګرتیا او ملاتړه لاس نه اخلي؛ حال دا چې په دې ویاړلي هیواد کې د وطندوستو، خپلواکۍ غوښتونکو او سوله ییزو ځواکو هیڅ کمۍ نه ؤ او نسته. په ډېري خواشینۍ سره یې امریکایي او ایتلافي دولتو نه یوازي

سیله او ملاتړ نه دئ کړئ، بلکي همېشه یې د خپلو ستراتیژیکو ملګرو یاني تروریستي او افراطي ډلو ټپلو له لاري په ځبلو او ټکولو کي هم پراخه او فعاله ونډه اخیستي ده.

امریکایي او غربي واکمنانو تر هغه مهاله پر هیچا د جنایتکار، مستبد، لوټمار، ورانکار او تروریست ټاپه نه ده لګولي، چي د دوی له استعماري نخشو او شومو ګټو سره ښکاره مخالفت و نه لري. د عربو فاسد او مستبد دولتونه او بېلابېلي تروریستي ډلي، په تېره بیا القاعده یې تر ټولو روښانه او ژوندی مثال دئ. دا خبره له هیچا پټه نه ده، چي سي. آی. اې. او نورو غربي استخباراتي شبکو د تیري پېړۍ په اتیایمو کلونو کي له سره پوځ او د کابل له روس پلوه رژیم سره د جنګولو په مخسد د دونیا له ګوټ ګوټ څخه د القاعدې خواره واره غړي و پاکستان او افغانستان ته ولېږل؛ او په ډېر ویاړ سره یې د مجاهدینو یا هولي فایټرز(**holy fighters**) لقبونه ورکړل. د لوېدیځو هیوادو، په تېره بیا متحدو ایالتو واکمني ډلي، د عربو مرتجع دولتونه، پاکستاني جنرالان او ایراني اخوندان ګرده په دې خونړي او مکرجن ماموریت کي یو د بل ملګري او خواخوږي وه. اوږده کلونه وروسته یو دم همغه سپیني ملایکي د تروریستانو په نامه ونومول سوې؛ او د نړۍ د اشغال په پلمه مو تر یو لړ زرګري جنګو او نښتو وروسته یو وار بیا هم وکتل، چي همدغو امریکایي او اوروپایي واکمنانو بیا هم همغه القاعده ډوله ملېشي له خپلو نورو نېکټایي تړلو مزدورانو سره په ګډه په لیبیا کي د واک پر ګدۍ کښېنولي، چي دا دئ ټول جهان یې د وینو تویولو او وحشتناکو غوبلو شاهد دئ. په سوریه کي هم ګورو، چي د همدې ډول مزدورو او ورانکارو ډلوټپلو د واکمن کولو دپاره له هیڅ راز انساني ضد هلوځلو څخه مخ نه اړیي. په افغانستان کي هم د یونیکال (**Unocal**) شرکت له ټرون سره د مخالفت تر وخته د طالب چاراواکو له فرهنګي استبداد او مذهبي افراطیت سره سر ښوراوه.[۶۱] حال دا چي امریکا او نورو غربي دولتو کولای سوای د مشروطو مرستو په ورکولو سره د طالبانو د مذهبي افراطیت او فرهنګي تحجر مخه و نیسي. په خواشینۍ سره امریکا او متحدینو د خپل همېشني استعماري سیاست له مخي د طالبانو د ښو او ګټورو اقداماتو( د امنیت ټینګول، د فساد مخنیوی او د کوکنارو د کرهني بندول ) د ستاینې او تشویق پر ځای د هغو د جنایتکارو او ورانکارو مخالفینو و سیاسي، پوځي او مالي ملاتړ ته لا زور ورکړئ.

د امریکا او ایتلافي لښکرو مشرانو د افغانانو پر تېرو ترخو تجربو او پراخو اعتراضو سربېره، په دې وروستیو کلونو کي د دې هیواد د ورو قومو او قبیلو د جنګولو، د استعمار ضد اولسي پاڅون د ځبلو یا کمزوري کولو او بالاخره خپلو اوږدمهاله استعماري ګټو د تحقق په مخسد د« اربکیانو» په نامه، سیمه ییز ملېشي هم جوړي کړې، چي بې غیرقانوني وژنو، زورزیاتي، انسان تښتونو، اخلاقي فساد، اولس کړولو، چور وچپاو او نور وحشتناکو جنایتو بل کار نه لري.[۶۲] څو ورځي دمخه همدغو خپلسرو او بې مسوولیته ملېشو د افغانستان په شمال ختیځ ولایت، کندوز، کي زموږ پینځلس بې ګونا وطنداران تر تېغ تېر کړل.[۶۳] وسله والو مخالفینو هم تر دې وحشیانه جنایت سمدستي وروسته، په همغه کندوز کي د یوې ځان وژونکي حملې په ترڅ کي د ملېشو یوولس ( ۱۱) کسه په وینو و لړل ، چي له هغو سره زموږ پینځه ( ۵ ) ملکي وګړي هم شهیدان؛ او شاوخوا شل ( ۲۰) کسه نور ټپي سول.[۶۴] د هیواد په ګوټ ګوټ کي د دغو بدنامو ملېشو له خوا د نجونو او هلکانو د تښتولو، د بېوزلو خلګو د بندي کولو، لوټولو، ازارولو او داسي نورو جرمو او جنایتو لیست دونه اوږد دئ، چي بشپړه یادونه یې د دې لنډي لیکني تر حوصلي وتلي خبره ده. زموږ هوښیار او ویښ هیوادوال ښه پوهېږي، چي د دې غملړلو پېښو اصلي او اساسي مسوولین څوک دي؟! تر هغه وخته چي له مزدورو جنګي ډلو ټپلو سره د پردو لښکرو رحم وکرم جاري یي، په افغاني ټولنه کي به هم د « دشت لیلي » او« کندوز » په څېر انساني تراژیدۍ تل تر تله دوام لري. دا ډول ناورینونه به هر یو په خپل وار سره زباتیي، چي امریکایي او ایتلافي پوځونه پر خپلو بشري ضد او جنګي جنایتو سربېره د افغانستان د جنایتکارو او ورانکارو جنګي ډلو ټپلو، غاصبانو، غلو، جاسوسانو، د مخدره موادو د سوداګرو او داسي نورو انساني ضد کړییو په هر جرم و جنایت

کي پوره لاس لري. د دي مزدورو جنايتکارانو او خاينانو بېلابېلي ډلي ټپلي نه يوازي کولای سي زمونږ وياړلي تاريخي هيواد، ګران افغانستان،يو ځل بيا له قومي، قبيله يي او تنظيمي جګړو، بلکي د دايمي تجزيي له خطر سره مخامخ کي. په دي ترتيب، د دي ګډ تاريخي کور د تجزيي او بربادۍ خطرونه په واقعيت کي له هغو استعماري لښکرو او پردو دولتو څخه را ولاړيږي، چي په خپل ټول واک او ځواک د دي جنايتکارو او خاينو ډلو ټپلو تر شا ولاړ دي.

---

لمنليکونه

[*] United Nations, <u>The Universal Declaration of Human Rights</u> adopted on 10 December, 1948: http://www.un.org/en/documents/udhr/

[**] Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights: <u>International Covenant on Civil and Political Rights</u>, adopted on 16 December 1966, effective from 23 March 1976: http://www2.ohchr.org/english/law/ccpr.htm

[***] ( قانون اساسی افغانستان ، ۱۳۸۲) .

[****] (قانون جزای افغانستان ، ۱۳۵۵) .

[56] ——, "**US bomb kills 30 at Afghan wedding**", daily mail, Sunday, Oct 14 2012: http://www.dailymail.co.uk/news/article-125820/US-bomb-kills-30-Afghan-wedding.html

[57] *Amy Goodman & Juan González, "**The U.S. Bombs a Wedding Party in Afghanistan; Death Toll Estimates Range Between 40 and 250**", Democracy Now, TUESDAY, JULY 2, 2002:*

*http://www.democracynow.org/2002/7/2/the_u_s_bombs_a_wedding*

[58] ——, "**Deh Bala wedding party bombing**", From Wikipedia, the free encyclopedia: http://en.wikipedia.org/wiki/Deh_Bala_wedding_party_bombing

[59] ——, "**Dasht-i-Leili massacre**", From Wikipedia, the free encyclopedia: http://en.wikipedia.org/wiki/Dasht-i-Leili_massacre; "**The Dasht-e-Leili Massacre of Taliban prisoners of war, US FOIA, part II, 2002-2008**", Release date July 22, 2009:

http://wikileaks.org/wiki/The_Dasht-e-Leili_Massacre_of_Taliban_prisoners_of_war,_US_FOIA,_part_II,_2002-2008

[60] Rod Nordland, **"Top Afghans Tied to '90s Carnage, Researchers Say"**, The New York Times, July 22, 2012: http://www.nytimes.com/2012/07/23/world/asia/key-afghans-tied-to-mass-killings-in-90s-civil-war.html?pagewanted=all

[61] Peter Symonds, **“Afghan war crimes report suppressed”,** wsws.org. 1 August 2012: http://www.wsws.org/articles/2012/aug2012/pers-a01.shtml

[62] John Glaser, “**US Still Supporting Abusive Afghan Militias as Civil War Looms: The Afghan Local Police have committed widespread human rights abuses**”, antiwar.com, July 10, 2012:

http://news.antiwar.com/2012/07/10/us-still-supporting-abusive-afghan-militias-as-civil-war-looms/

[63] Sadaf Shinwari, **“Afghan local police forces kill civilians in Kunduz”,** KHAAMA PRESS, Sunday, Sep 02, 2012: http://www.khaama.com/afghan-local-police-forces-kill-civilians-in-kunduz-178/

[64] ——, “Suicide attack in Afghan city of Kunduz 'kills 16'”**, BBC NEWS, 10 September 2012: http://www.bbc.co.uk/news/world-asia-19543786**

**پاته په بله برخه کي**